# پهٔ عربي اؤ پښتو ادبياتو کښې دَ مجنون ليلىٰ قيصې ته لنډه کتنه

# Comparative Study of the Story “Majnūn Lailᾱ” in Arabic and Pashto Literatures

فضل الله مومند *

ډاکټر يعقوب خان مروت**

**Abstract**

This article deals with the comparative study of the romantic story of Lailᾱ Majnūn written in two different languages having different social, cultural and historical backgrounds.

The study will also explain the psychological and social aspects of the Arabic version and similarly the Pashto version. It will also be discussed that how it proved to be humanitarian in both literatures on different levels. Comparative research method has been employed for this study.

The story of “Majnūn Lailᾱ” is an old Arabic tale of unlucky lovers, loosely connected with the life of a 7th century poet; Qays ibn al-Mulawwaḥ and Lailᾱ bint Mahdī.

It has been translated to various languages including Persian, Urdu and Pashto, and like all other tales told and retold on various occasions and different stages according to the need of the society generation after generation.

This story has its impact on almost all of the oriental languages and their literatures and cultures.

Notwithstanding controversies, the story of Lailᾱ and Majnūn has a eminent position in the Arabic literature as well as in other languages. We can see the features of this story transmitted to most of the people of the world and affecting the ethics of these people. The strongest evidence to the valuable position of this story is the entry of the name of Lailᾱ and Majnūn to various nations and its use in the societies other than the Arabs, and with the broad-based spread of the words it also came as a symbol of lover and sweetheart as for instance in Pashto.

**Keywords**: *Comparative Literature; Arabic; Pashto; Lailᾱ; Majnūn.*

لکه څنګه چې دا خبره جوته ده چې مقارِن يا پرتليز ادب دَ دوه يا ګڼو ادبونو ترمېنځ دَ ورکړې اؤ راکړې ورکولو اؤ اخيستلو دَ تأثير څخه بحث کوي اؤ يواځې هم دا ئې دَ بحث اړين ټکي

* پي ايچ ډي سکالر، عربي څانګه، پېښور پوهنتون

** پروفېسر، عربي څانګه، پېښور پوهنتون

اؤ موضوعات ګڼلے کېږي. يعنې يؤ ادب بل ادب ته کوم څيزونه ورکړي دي اؤ يا يؤ ادب دَ بل ادب څخه کوم څيزونه ترلاسه کړي دي څومره اؤ پهٔ کومه کچه يؤ ادب دَ بل ادب څخه اغېزمن شوے دے، څومره تأثير اؤ تأثر دَ دواړو ادبونو تر مېنځ تبادله شوے دے. دغې ادب ته دَ اديبانو اؤ کره کتونکيو (ناقدانو) تر مېنځ پرتليز يا مقارن ادب وئيلے کېږي.

پرتليز ادب يؤ لوي ژور اؤ خور سمندر دے هر څوک پهٔ کښې غوټې وهي اؤ دَ خپلې خوښې ښکار پهٔ کښې را نيسي. کۀ هر څومره څيزونه ترې نه را پورته اؤ را واخيستلے شي دا داسې مثال لري لکه پهٔ ډکي يا تيلي چې دَ سمندر څخه يؤ څاڅکے را پورته شي اؤ نور ټول سمندر پهٔ خپل ځائې پاتې شي.

ډېره اړتيا برېښي چې پهٔ ياد ادب کښې ډېرې علمي اؤ اکېډيميکې ليکنې وشي خو بيا هم دغه تشه به را ډکه نۀ شي اؤ پهٔ سمه توګه به دغه اړتيا پوره نۀ شي.

پښتو ژبه اؤ ادب دواړه دَ عربۍ ژبې اؤ ادب څخه اغېزمن شوے دے. دَ دواړو ژبو اؤ قامونو ترمېنځ ډېر پخواني اؤ ګڼ شمېر تړاوونه اؤ روابط شتون لري دَ بېلګې پهٔ ډول ديني، ټولنيز، سياسي، فرهنګي اؤ کلتوريز تړاوونه اؤ داسې نور. پهٔ ټولو تړاوونو کښې پښتو ادب دَ عربي ادب څخه اغېزمن شوے دے. دَ ټولې اسلامي نړۍ ژبې اؤ ادبيات پهٔ ځانګړي ډول دَ شرقي نړۍ ادبيات چې پښتو ژبه اؤ ادب هم پهٔ کښې شامل دي دَ عربۍ ژبې اؤ ادب څخه اغېزمن شوي دي. دا دَ هغې مودې راهيسې کله چې نړۍ ته دَ اسلام خوږ اؤ ګران پېغمبر محمد (صلی الله عليه وسلم) راغے اؤ دَ اسلام دَ مقدس اؤ سپېڅلي دين دَ منلو لپاره يې دعوت اؤ تبليغ اول پهٔ مکه معظمه کښې اؤ بيا پهٔ مدينه منوره کښې پيل کړو.هم دا رنګه بيا پهٔ ټوله نړۍ کښې دَ اسلام مقدس دين خور شو اؤ نړيوال نوم يې ترلاسه کړو.

دَ نومورې قيصې لنډيز پهٔ عربي ادب کښې:

دَ مجنون لېلا قيصه دَ يؤ پاک سپېڅلي عذري عشق اؤ مينې قيصه ده، چې دَ دوه ماشومانو مئينانو (مجنون اؤ لېلا) ترمينځ پهٔ جزيرة العرب کښې دَ اموي دؤرې خلافت دَ مودې پهٔ وړومبو کالونو کښې واقع شوې ده.

دَ "مجنون" نوم: قېس بن الملوح بن مزاحم بن عدس بن ربيعة بن جعدة بن کعب بن ربيعة بن عامر بن صعصعة دے ، دا دَ مجنون پېژندل شوے نوم دے، البته دَ مجنون دَ اصلي نوم پهٔ حقله نور اقوال هم شته، وئيلے کېږي چې دَ دۀ نوم: "قېس" دے اؤ دَ پلار نوم ئې "معاذ" دے (قېس بن معاذ)، اؤ همدا رنګه يؤ بل قول دے چې دَ دۀ نوم: "معاذ" دے اؤ دَ پلار نوم ئې "الملوح" دے (معاذ بن الملوّح)، اؤ درېم قول دا دے چې دَ مجنون نوم: "مهدي" دے اؤ دَ پلار نوم ئې "الملوّح" (مهدي بن الملوّح) دے.

دَ مجنون دَ قوم اؤ قبیلې پۀ حقله دَ هیڅ اختلاف نشته ټول پۀ دې آند دي چې مجنون دَ یوې پیژندل شوې عربي قبیلې "بني عامر" سره تعلق لاره.، [1]

هغه "لیلا" چې مجنون پرې خپل زړۀ بایللے دَ هغې نوم: (لیلا بنت مهدي بن سعد بن کعب بن ربیعة بن جعدة بن کعب بن ربیعة بن عامر بن صعصعة) دے"،[2] لیلا هم پۀ ربیعه نیکه کښې دَ مجنون سره یؤ ځائې کیږي اؤ هم دا رنګه دَ لیلا دَ قوم اؤ قبیلې پۀ حقله هم دَ هیڅ اختلاف نشته ټول پۀ دې آند دي چې لیلا هم دَ نوموړې پیژندل شوې عربي قبیلې "بني عامر" سره تعلق لرلو.

دَ دواړو مئینانو دَ کورنو پۀ حقله ټول لیکوالان هم پۀ دې آند دي چې دواړو دَ ډیرو شتمنو اؤ پژندل شؤ کورنو سره تعلق لرلو، دَ فقر، غربت اؤ هر قسم ستونزو اؤ مشکلاتو څخه ډیر لرې وو. دې خبرې ته هم دَ عربي ادب لیکوالانو اشاره کړې ده چې دَ مجنون کورنۍ دَ شهرت اؤ شتمنۍ پۀ لحاظ دَ لیلا دَ کورنۍ څخه ښۀ اؤ پورته وه. همدا رنګه دَ مجنون پلار دَ خپلې قبیلې (بني عامر) مشري اؤ ملکي هم پۀ غاړه لرله. دَ مجنون نور وروڼه هم وو مګر پلار ئې دَ مجنون سره خاص اؤ ځانګړې مینه کوله اؤ پۀ ټولو وروڼو ئې مجنون غوره ګڼلو. هم دا رنګه دَ مجنون دَ شاعرۍ اؤ دَ هغه څخه دَ روایت شویو أخبارونو اؤ معلوماتو څخه داسې جوتیږي چې دَ مجنون اؤ لیلا دَ کورنو تر مېنځ پخوانۍ دوښمني هم وه. مجنون دَ بني عامر پۀ ټوله قبیله کښې دَ یؤ ډیر هوښیار، ځیرکه، پوهه، ښکلي، اخلاقي، طبیعتي، مینه ناک اؤ هرچا ته ډیر ګران اؤ پۀ زړۀ پورې هلک پۀ نوم شهرت لاره.، [3] مجنون دَ عربۍ ژبې یؤ لوي شاعر ؤ چې دَ یؤ لوي دیوان څښتن هم دے، غزل ئې عذري دے.، [4] دَ عذري شاعرانو پۀ وړومبي قطار کښې شمیرلے کیږي.

وئیلے کیږي چې مجنون دَ لیلا سره پۀ ماشومتوب کښې کله چې دواړه ماشومانو څاروي څرول مینه اؤ تعلق پیدا کړو اؤ کله چې دواړه لږ شان را غټ شول نو لیلا ترې نه دَ خپلې کورنۍ پۀ غوښتنه مخ پټ کړو اؤ خپل ستر ئې شروع کړو. دغې کار دَ مجنون عشق اؤ مینه نوره هم سېوا کړه. لیلا سره دَ مجنون دَ عشق اؤ مینې دَ پیل نه تر پایې پورې دَ دواړو مئینانو دَ ژوند پۀ چاپیریال کښې دواړه دَ لویو اؤ ناوړو حادثو، ستونزو اؤ مصیبتونو ښکار شوي هم دي. دواړه مئینان دَ عشق اؤ پاکې مینې هغه نوموړي دي چې تراوسه ئې هر څوک دَ مینې اؤ عشق پۀ مثالونو کښې راوړي اؤ تر قیامته به همدغه شان ژوندي پاتې وي. مجنون ډیره هڅه وکړه چې لیلا سره وادۀ وکړي اؤ ډیر مشران ئې دَ خپل ځان لپاره دَ لیلا پلار ته دَ سفارشیانو پۀ توګه بوتلل لکه نوفل بن مساحق اؤ داسې نور. خو دَ لیلا اؤ مجنون دواړو یؤ ځائې کېدل یوه ناکامه هڅه وه چې مجنون پۀ هغې کښې پاتې راغے. دَ لیلا پلار لیلا بل چا

(ورد الثقفي) ته پهٔ نکاح ورکړه اؤ مجنون دَ لېلا سره دَ نکاح کولو نه محروم پاتې شو. دَ مجنون جنون يؤ پهٔ لسه ډېر شو پهٔ غرونو، راغونو، دشتو اؤ بيابانونو کښې ئې دَ داړونکيو ژويو اؤ ځناورو سره يؤ ځائې ژوند کاوه چې پهٔ مرور دَ وخت سره دا هم لکه دَ يؤ تور ببر ځناور غوندې شو اؤ چا به چې دهٔ ته کوم څهٔ خواړه راوړل دهٔ به همدغه خواړه چار چاپېره داړونکيو ژويو اؤ ځناورو ته واچول چې ټول ئې پهٔ دغه کار دَ ځان تابع کړي وو. دهٔ به لکه دَ ښاړويو غوندې واښهٔ (گيا) اؤ شنې پاڼې خوړلې همدغه وجه وه چې داړونکيو ژويو اؤ ځناورو به پرې هيڅ کوم غم غرض نهٔ کولو. کله به چې دهٔ کوم ښکاري وليد چې سارانۍ (هوسۍ) به ئې ښکار کړې وه دا به ورغے اؤ ډېرې خبرې به ئې ورته وکړې بالآخره هغه ښکاري به ئې دې ته مجبور کړو چې دغه نيولې ښکار بېرته خوشے کړي. مجنون به دغه نيولے شوې سارانۍ (هوسۍ) دَ لېلا سره مشابه کوله بلکې دهٔ ته بعينه.

لېلا ښکارېدله اؤ ښکاري ورته ورد الثقفي ښکارېدو. کهٔ چرې ښکاري به سارانۍ (هوسۍ) نهٔ خوشې کوله دا به پهٔ هيڅ صورت دَ خپلې خبرې نه نهٔ گرځېدو حتٰی جنگ اؤ شور به ئې هم کولو خو بالآخره ښکاري به مجبور شو ښکار به ئې بېرته پرېښود اؤ کور ته به تش توقه ورستون شو....

مجنون دَ ټولو انسانانو څخه ځان جدا اؤ گوښه کړے ؤ اؤ تل به پهٔ وجد اؤ اغماء کښې پروت ؤ. هيڅ خبرې به ئې نهٔ کولې، مگر پهٔ هغه وخت کښې به ئې خبرې کولې اؤ دَ پوښتنو بشپړ جواب به ئې ورکولو کله به چې دَ لېلا نوم ياد شو. مجنون اؤ لېلا دواړو به يؤ بل ته ليکلي پيغامونه هم کله نا کله استول.،،[5]

ورد الثقفي دَ لېلا سره دَ وادهٔ کولو نه هيڅ خوند اؤ مزه وا نهٔ خيسته. لېلا دَ مجنون سره پهٔ بشپړه وفاء کښې پاتې شوه اؤ خپل خاوند (ورد الثقفي) ته ئې ځان ورنهٔ کړو اؤ دَ هغه نفسي خواهشات ئې تر آخره پوره نهٔ کړل اؤ هغه ته ئې پهٔ خپل ربّ قسم خوړلے ؤ کهٔ چرته رانېزدې شوې ستا پهٔ توره به خپل ځان ووژنم خو تا ته به هيڅکله هم ځان درنهٔ کړم. هم تدغه وجه وه چې ورد الثقفي به شپه اؤ ورځ دَ لېلا څارنه کوله اؤ خپل ټول ورځني کارونه ترېنه پاتې شول بالآخرة چې دَ اوږدې ناروغۍ ښکار شو اؤ دَ دنيا څخه ئې دَ تل لپاره سترگې پټې کړې اؤ تر آخره ئې پهٔ لېلا لاس بر نهٔ شو اؤ خپلې موخې اؤ مقصد ته وَ نهٔ رسېدو.

دَ لېلا اؤ ورد الثقفي وادهٔ دَ مجنون اؤ لېلا دواړو پهٔ ژوند کښې ډېرې بدې نا اشنا پايلې اؤ ډېرې بدې اغېزې اؤ ستونزې راپېدا کړې وې...[6]

عربي عاطفي ژوند لکه څرنگه چې مونږ ته چې دَ عربي شعر څخه څرگند شوے دے – گڼ شمېر رنگونه لري اؤ عذري غزل ئې ډېر څرگند اؤ ښکلے رنگ دے. قېس بن الملوّح يا "دَ

بني عامرو مجنون" دَ عذري غزل هغه لوړه او اوچته برخه په خپلو شعرونو او روايت شويو أخبارونو او معلوماتو کښې تمثيل کړې ده. لۀ دې کبله مونږ ته پکار دي چې دَ عذري عاطفې طبيعت او ځانګړتياوې او همدا رنګه دَ عذري عاطفې پيل او پرمختګ څرګند او روښانه کړو. دَ دغې عذري عاطفې په اغېز عربي ادب په نورو شرقي او غربي ادبياتو بشپړ اغېز کړے دے. دَ بېلګې په ډول دَ ليلا او مجنون قيصه په عربي ادب کښې دَ عذري عاطفې يوه ځانګړې نمونه ده چې دَ شرقي نړۍ ټول ادبيات ترې نه اغېزمند شوي دي او ټولو ادبياتو دَ عذري عاطفې دَ رنګ په ځائې صوفي رنګ خپل کړے دے او دغه صوفي رنګ دَ شرقي نړۍ ادبياتو ته دَ فارسي ادب له لارې ورغلے دے. په فارسي ادب کښې دغه قيصه يواځې صوفي شاعرانو په مثنوي شعر کښې خپلې ټولنې ته وړاندې کړې ده. اول دغه قيصه نظامي ګنجوي ليکلې ده او بيا دَ ګنجوي په پل نورو شاعرانو لکه: عبدالرحمن جامي، سعدي شيرازي، أمير خسرو دهلوي، مکتبي شيرازي او داسې نورو قدم ايښے دے او ټولو هم هاغه شان دَ تصوف رنګ ورکړے دے. دَ پښتو ادب شاعران لکه سکندر خان خټک، بابي خان، حافظ نظام، رحمت داوي، محمد عصام (عصام)، ملا نعمت الله او احمد تيراهي يا داسې نور په نوموړې قيصه کښې دَ عربي ادب څخه نېغ په نېغه نۀ دي اغېزمند شوي بلکې دغه ټول دَ پښتو ژبې شاعران دَ فارسي دَ ادب لۀ لارې دَ عربي ادب څخه اغېزمند شوي دي. ټولو هم همدغه صوفي رنګ نوموړې قيصې ته ورکړے دے. مجنون او ليلا دواړه ئې لوې صوفيان خپلې ټولنې ته ورپېژندلي دي.

عذري غزل: هغه شعر دے چې عذري عشق او مينه انځوروي او عذري عشق او مينه: هغه قوي او مضبوطه عاطفه ده چې عاشق يا مئين په خپلې معشوقې زړۀ داسې بايللے وي چې يواځې دَ معشوقې په وصال او نزدېکت عاشق ته يوه لويه هيله او يوه لويه حوصله مندي ور په برخه کېږي ليکن دَ معشوقې په وړاندې دَ عاشق نظر او ديد حسي او بدني خوند څکلو او متاع ته هيڅ کله هم نۀ ورګرځي. دا ځکه چې عاشق غواړي خپله پاکه او سپېڅلې مينه چې په هره قربانۍ او هر قيمت ساتلے کېږي دَ تل لپاره وساتي او دوام ورکړي . په دغه لار کښې چې دَ کومې ستونزې او ناخوالې سره مخ کيږي دَ کلک مقاومت، صبر او حوصلې څخه به کار اخلي. په عذري مينه کښې مئين خپلې پاکې او سپېڅلې مينې ته ډېر لوي او اوچت مقام ورکوي . په هر څۀ ئې پورته او غوره ګڼي. دا هيله او طمع ئې هم وي چې يوه ورځ به دغې حسي بدني خوند او لذت څکلو او متاع ته هم لاس رسي پېدا کړي. خو هغه ته ډېره ګرانه او نا شونې وي چې دغه شان حسي او بدني خوند او متاع څخه ګټه پورته کړي. دا ځکه چې مئين دغه شيان دَ مينې په اصلي او وړومبي قطار کښې نۀ شمېري او نۀ ورته کوم

ځانګړے اهمیت ورکوي. لاندې یاد شوي ټکي دَ دغې خبرې لاملونه کېدلے شي:
اول دا چې دَ مئین دغه محرومیت شاید ارادي وي. دَ هغه پهٔ خوښه اؤ اراده ئې ځان دَ حسي ، بدني لذت اؤ متاع څخه محروم کړے وي یا دَ زهد ، تقوی اؤ دَ الله پاک څخه دَ وېرې لهٔ وجې اؤ یا به دَ عاشق یا مئین دغه محرومیت دَ عاشق لهٔ ارادې اؤ غوښتنې پرته دَ ټولنیزو اؤ تقلیدي رسمونو اؤ رواجونو لهٔ وجې وي. عاشق دَ خپلې مینې دَ زور لهٔ کبله هرې ستونزې سره دَ مقابلې لپاره پهٔ خپل مېدان کښې دَ کلک اؤ مضبوط هوډ سره ولاړ وي اؤ کهٔ کومه ستونزه اؤ تکلیف ورته پهٔ دغې لار کښې ورپېښېږي خوند اؤ لذت ترې نه اخلي. دَ عاشق یا مئین دغه محرومیت پهٔ پوړتنیو حالتونو کښې دَ هغه دَ مینې اؤ عاطفې دَ مقام دَ پوړته والي اړینه لار کیدلے شي. کهٔ چرته دغه عاطفه اؤ مینه رښتیني پاکه اؤ سپېڅلې وي اؤ بله دا چې عذري مینه خو پاکه اؤ سپېڅلې مینه ځکه ده چې عاشق یا مئین پهٔ خپل ځان ټول حسي اؤ بدني لذتونه اؤ خوندونه اخیستل حرام کړي دي اؤ ټول انساني لوړ ارزښتونه اؤ اخلاقي جوړښتونه ئې پهٔ نظر کښې نیولي دي. نو دغه رښتیني پاکه اؤ سپېڅلې مینه دَ ټولو ستونزو اؤ محرومیتونو سره سره بیا هم پرله پسې (دوامداره) پاتې کېږي. دَ حسرت اؤ ندامت ټکي هیڅ کله هم خُلې ته نهٔ ورځي اؤ نهٔ ئې پهٔ اړه کوم ځانګړے خیال اؤ تصور کوي.،،[7]

دَ نوموړې قیصې لنډیز پهٔ پښتو ادب کښې:

دَ پښتو ادب یادوي چې دَ مجنون لیلا قیصه دَ ټولو ښکاره اؤ پټو عیبونو څخه پاکه اؤ دَ سپېڅلې صوفي عشق اؤ مینې قیصه ده چې دَ دوه ماشومانو مئینانو (مجنون اؤ لیلا) ترمېنځ پهٔ جزیرة العرب کښې دَ اموي دورې خلافت دَ مودې پهٔ لومړنیو کالونو کښې واقع شوې ده.

دَ پښتو ادب شاعرانو اؤ لیکوالانو دَ دغې قیصې پیل لهٔ دې کړے دے چې وایي: دَ عربو پهٔ جزیره کښې دَ بني عامر دَ قبیلې یؤ لوي بادشاه ؤ چې نوم ئې (الملوّح) ؤ ډېر ښکلے اؤ پهٔ زړهٔ پورې ژوند ئې لاړه. دَ مېلمنو به ئې ډېر زیات قدر اؤ عزت کولو. هیڅ قسم مادي ستونزې اؤ مشکلات ئې نهٔ لرل. مګر یوه غټه ستونزه ئې هم دا وه چې الله پاک دَ اؤلاد دَ نعمت څخه محروم کړے ؤ . پهٔ ډېره عاجزۍ اؤ تواضع به ئې ډېرې دعا ګانې کولې، ډېرې درملنې ئې وکړلې اؤ ټولې ممکنه لارې اؤ چارې ئې پهٔ کار واچولې اؤ تر اندازې زیات خېراتونه اؤ صدقات به ئې پهٔ غریبو خلکو ویشل چې الله پاک ئې دعاګانې قبولې کړي اؤ دَ یؤ نیک اؤ صالحه بچي پلار شي. الله پاک ئې ډېره موده وروسته دعاګانې قبولې کړې اؤ یؤ بچے ئې ورکړو چې دَ (قېس) پهٔ نوم ئې وَنوما ؤ.

دَ زیږېدلو دَ ورځې راهیسې دَ (قېس) ښکلې اؤ مرفّه ژوند پیل شو. دَ والدینو دَ مینې اؤ محبت

څخه علاوه دَ بادشاه لپاره هم دَ قېس سره هرچا مینه کوله چې بادشاه پرې خوښ اؤ خوشاله کړي. کله چې قېس لس کلن شو پلار پۀ مکتب/مدرسه کښې داخل کړو چې دَ نورو ماشومانو غونډې قېس هم دَ علم اؤ پوهې لۀ نعمت څخه برخمن شي. پۀ دغې مکتب / مدرسه کښې دَ کلي دَ ماشومانو هلکانو تر څنګ دَ کلي جینکیانوهم سبقونه وئیل.پۀ دغو جینکو کښې یوه ښکلې ملغلره جینۍ دَ (لېلا) پۀ نوم هم وه چې دَ (قېس) سره به یۀ ځائې کښیناستله. دواړو به دَ یۀ بل سره ملګرتیا کوله اؤ دغه ملګرتیا به ورځ تر بلې پیاوړې کېدله. بیا همدغه صنفي ملګرتیا پۀ مرور دَ وخت سره پۀ یوې پاکې اؤ سپېڅلې صوفي مینې بدله شوه اؤ قېس دَ تل اؤ ابد لپاره دَ دغې مینې بندیوان شو.پۀ کلي اولس کښې دَ دغې دواړو مئینانو دَ مینې اؤ محبت خبرې ورځ تر بلې خورېدلې. دَ قېس ورځنیز ژوند ، سلوک اؤ تصرفات لېلا سره دَ مینې پۀ وجه دومره اغېزمن شول چې خپلو صنفیانو اؤ ملګرو دَ (مجنون) لقب ورکړو. کله چې دَ لېلا کورنۍ دَ دواړو مئینانو دَ مینې څخه خبره شوه نو لېلا ئې مکتب / مدرسې ته دَ تللو څخه بنده کړه. دَ مجنون جنون یۀ پۀ لسه ډېر شو دَ خپل کور څخه ووتلو. پۀ غرونو، راغونو، دشتو اؤ بیابانونو کښې ئې دَ وحشي ځناورو اؤ داړونکیو ژویو سره یۀ ځائې ژوند پیل کړو. دَ لېلا سره دَ مینې اؤ محبت دَ زړه تاؤدۀ براسونه به ئې کله نا کله دَ خپل شعر پۀ ژبه پۀ ښکلې غږ بهر ته راویستل چې دغې کار دَ لېلا کورنۍ نوره هم ډېره زیاته خفه اؤ ناراضه کړې وه ځکه چې دَ چا پۀ ناموس کښې غزلونه وئیل اؤ بیا دَهرچا پۀ خُلۀ دغه غزلونه ضمضمه کېدل پۀ عربي ټولنه اؤ معاشره کښې ډېره لویه دَ شرم اؤ عار خبره ګڼل کېده.دَ مجنون حالت چې ډېر خراب شو پلار ئې سره دَ اولس دَ مشرانو اؤ سپین ږیرو دَ لېلا پلار ته دَ مجنون لپاره ورغلل چې لېلا مجنون ته پۀ نکاح ورکړي دَ مجنون پلار اؤ ټولو جرګه مارانو ډېرې خوارۍ اؤ زارۍ وکړې اؤ وې وئیل چې: هرڅومره سرۀ زر ، سپین زر اؤ مال چې غواړې دربه ئې کړو خو چې انکار راته وَنۀ کړې، مګر دَ لېلا پلار چورلټ انکاري شو اؤ وې وئیل چې: ستا زوے قېس لېونے دے اؤ پۀ هر ځائې کښې دَ خپل لېونتوب مظاهره کوي، مونږ ته پکار نۀ دي چې دَ لېوني سره خپلولي وکړو. زما دَ لور لېلا پۀ حقله ئې شعرونه لیکلي اؤ بیا ئې پۀ ګڼو ناستو اؤ مجلسونو کښې ضمضمه کړي هم دي. تاسو ټولو محترمو مشرانو اؤ سپین ږیرو ته خو غوره معلومه ده څوک چې دَ کومې جینۍ پۀ حقله کوم شعر ووایي پۀ ټوله عربي ټولنه اؤ معاشره کښې دا معموله اؤ حتمي خبره ده چې هم دغه جینۍ به هم دغې شاعر ته نۀ ورکول کېږي. ټولو ښاغلیو مشرانو اوس کۀ زۀ لېلا قېس ته پۀ نکاح ورکړم زۀ به خپلو همزولو اؤ سیالانو ته څۀ وایم؟ دَ شرم اؤ عار لۀ وجې به خپل سر څنګه اوچتووم.؟

دَ مجنون کورنۍ کوشش وکړو چې دَ لېلا نه غېبر بله جینۍ دَ قېس لپاره وګورې. خو قېس

مجنون انکاري شو اؤ خپل مجرّد دَ لېونتوب ژوند پۀ غرونو، راغونو، دشتو اؤ بیابانونو کښې ئې پۀ بله ښځۀ غوره وګڼلو اؤ بلې ښځې کولو ته پۀ هیڅ صورت چمتو نۀ شو.

دَ قېس مجنون دَ لېونتوب درجه ورځ تر بلې اوچتېده، پلار اؤ کورنۍ ئې پۀ دې خبره سوچ اؤ فکر وکړو چې قېس مجنون حج ته بوزي شاید الله پاکﷻ ورته دَ وړپېښې ناروغۍ نه شفاء ورکړي اؤ ښۀ ئې کړي.

کله چې قېس مجنون دَ الله پاکﷻ کور خانه کعبې ته ورسېدو وې وئیل: "یاربِّ بعزة ربوبیتك وجلال ألوهیتك اجعلني أبلغ أقصى درجات العشق حتى یبقى... امنحني النور من عین العشق... فیارب هبني — في كل لحظة —مَیْلاً أعظم إلى ''لیلى''، وخذ ما بقي من عمري وزد في عمرها..."

ژباړه:

یا زما ربهﷻ! ستا دَ ربوبیت عزتمند مقام څخه اؤ ستا دَ ألوهیت دَ عظمت اؤ جلالیت ستر مقام څخه زما سوال اؤ غوښتنه هم دا ده چې ما دَ عشق اؤ مینې تر آخري درجې ورسوه چې پاتې شي اؤ دَ عشق لۀ چینې ماته رڼا راکړه. زما پالونکي ربهﷻ! پۀ هره لحظه کښې زما رغبت اؤ میلان دَ لېلا پۀ وړاندې زیات کړه اؤ ربهﷻ! زما دَ باقي پاتې عمر څخه یؤ څۀ عمر واخله اؤ دَ لېلا عمر پرې زیات کړه.

دَ "لېلا" کورنۍ دَ "قېس مجنون" اؤ دَ هغه دَ کارونو پۀ حقله والي یا ګورنر ته شکایت وکړو هغه ورته ووئیل: زما لخوا تاسو ته اجازه ده کله کۀ "قېس مجنون" بیا ستاسو کلي ته درغے وې وژنئ چې قیصه پې ختمه شي. دَ "قېس مجنون" پلار به کوشش کولو چې خپل زوے "قېس مجنون" دَ هر مصیبت اؤ ستونزې څخه وژغوري.ولې مجنون به دا خبره کوله چې دغه کار زما لۀ ارادې وتلے دے،اوس زۀ دَ خپل ځان اختیار هم هیڅ نۀ لرم. دَ حالاتو بدلون (سمول اؤ خرابول) زمونږ کار نۀ دے اؤ وې وئیل: "إنكم تلومونني في البكاء وفي شأن المبتلین، إنني أخاف أن أضحك فأحترق بضحكتي كما یُحترَقُ السحابُ بضحكات البرق..."

ژباړه:

تاسو ما پۀ ژړا اؤ هغه کار چې پۀ چا ازمېښت شوے وي ملامته کوئ. زۀ ویرېږم کۀ چرې وخاندم نو پخپله خندا به وسوزم، لکه څرنګه چې وریځ دَ برېښنا پۀ خنداګانو سوزېږي.

دَ "لېلا" مینه دَ "قېس مجنون" دَ مینې څخه کمه نۀ وه. لېلا هم دَ مجنون غوندې پۀ مجنون داسې عاشقه اؤ مئینه وه لکه څۀ رنګه چې مجنون پۀ لېلا عاشق اؤ مئین ؤ. دواړه پخپلو مینو کښې دَ یؤ بل سره انډول وو. دواړه شاعران هم وو اؤ یؤ بل ته به ئې شعري پېغامونه تبادله کول. لېلا چې دَ سبر ونې غوندې وه، کله نا کله به پۀ سپرلي موسم کښې دَ چکر لپاره نزدې باغ ته وتله. باغ به پۀ سرو اؤ زیړو ګلانو ډک ؤ اؤ انار به هم دَ خپلې سینې سرې دانې

دَ اور غونډې بهر را ویستلې وې اؤ بلبل به هم دَ مجنون غونډې دَ ګل پۀ مینه کښې ډوب ؤ.
لېلا دَ چکر پۀ دوران کښې دَ بني أسد قبیلې یؤ زلمي "ابن سلام" ولیده، ډېره زیاته ېې خوښه شوه دَ لېلا پلار ته ئې جرګه بوتله هغه ورسره دَ لېلا پۀ ورکړه موافقه وکړه. دَ لېلا پلار ووئیل: لېلا ناروغه ده کله چې دَ ورپېښې ناروغۍ څخه ښۀ شي نو تاسو بیا کولے شئ چې وادۀ ئې کړئ. په دغې دوران کښې "قېس مجنون" دَ عربو یؤ مخور مشر "نوفل بن مساحق"[8] چې دَ حکومت لخوا دَ ډېر قدرت، زور اؤ سلطنت خاوند ؤ ولیدو. هغه "قېس مجنون" سره دَ پیسو اؤ یا هم دَ زور اؤ جنګ ژمنه وکړه چې هر څومره مالي اؤ یا ځاني لګښت پرې راځي زۀ به تاته هرومرو لېلا کوم. کله چې نوفل بن مساحق دَ لېلا پلار ته دَ منصب، اقتدار اؤ دَ مال ورکولو وړاندیز وکړو دَ لیلی پلار دغه وړاندیزونه ونۀ منل اؤ دَ لېلا پلار ئې بندي کړو. دَ نوفل بن مساحق ټولې غوښتنې اؤ وړاندیزونه دَ لېلا پلار ردول اؤ پۀ هیڅ صورت دَ لېلا ورکړې ته تیار نۀ ؤ. بیا نوفل بن مساحق وغوښتل چې دَ لېلا پلار سره جنګ وکړي.لیکن دَ لېلا پلار پۀ خپل موقف ټینګ ولاړ ؤ اؤ دَ خپلې خبرې څخه هیڅ وَ نۀ ګرځیدو .پۀ پائې کښې ئې نوفل بن مساحق ته پۀ ډېرې عاجزۍ ووئیل: یا به زما دغه دَ عاجزۍ غوښتنه منې اؤ دَ بند څخه به مې ازادوې، کۀ چرته مې دا غوښتنه وَنۀ منې نو زۀ پۀ الله پاکؒ قسم خورم کله چې کورته واپس لاړم دَ دغې ناوې سر به پۀ توره غوڅوم اؤ دَ سپو پۀ لار کښې به ېې سپو ته غورځووم چې دَ نوم اؤ شرم څخه ئې خلاص شم. نوفل بن مساحق دَ لېلا دَ پلار پۀ خبرو پۀ ډېر سوچ اؤ فکر کښې ډوب شو اؤ پۀ دې پوهه شو چې پۀ دوړه دباؤ اؤ دمکیانو هیڅ نۀ ترلاسه کېږي نو دَ لېلا پلار ئې دَ خپل بند څخه آزاد کړو. مجنون چې دَ نوفل بن مساحق دَ کړنو څخه خبر شو ډېر زیات خفه شو. دَ لېلا پلار دَ لېلا پۀ ناخوښۍ لېلا "ابن سلام" ته وادۀ کړه. کله چې "ابن سلام" هغې ته دَ ورتګ اراده وکړه هغې پرې دَ څپېړې ګوزار وکړو اؤ قسم ئې وخوړلو: "أقسم بخالقي الذي صوّرني على هذا الجمال لن تنال مني غرضًا وإلا أرقت دمي بسيفك".[9]

ژباړه:

زما دې پۀ هغه پېدا کوونکي ذاتؒ قسم وي چا چې زۀ پۀ دې ښکلا اؤ ښایست جوړه کړې یمه چې ته به زما څخه خپلې موخې اؤ مقصد ته هیڅ کله هم وَنۀ رسېږې اؤ کۀ چرې ورسېږې نو ستا پۀ توره به خپله وینه توې کړم اؤ ځان به ووژنم.

دَ دغې خبرې سره "ابن سلام" هغې ته دَ نزدېکت څخه ډېر ناامېده شو اؤ هغې ته ئې دَ لرې نه یواځې پۀ کتلو دَ خواهشاتو تنده خړوبوله اؤ قناعت به ئې پرې کولو.

دَ "قېس مجنون" پلار دَ خپل زوي "قېس مجنون" پۀ سیده اؤ سمه لار بوتللو کښې پاتې راغے. دَ مجنون دَ کارونو څخه ډېر ناهیلي شو بالآخره چې دغه ناهیلي ئې پۀ اوږده اؤ پرله پسې ناروغۍ

تبدیله شوه تر دې چې مړ شو او دَ هغه زوي "قیس مجنون" هم هغه شان په دښتو، بیابانونو غرونو او راغونو کښې دَ ځناورو او حیواناتو سره یو ځائې کله یو خوا او کله بل خوا چکرې وهلې. یوه ورځ دَ "لیلا" په زوره کور تېر شو په کوم کور کښې به چې "لیلا" دَ وادهٔ څخه وړاندې اوسېده، هلته ئې یوه پاڼه وموندله چې په هغه پاڼه کښې دَ "لیلا" دَ نوم تر څنګ دَ "مجنون" نوم هم لیکلے شوے وُ. دهٔ دَ "لیلا" نوم وران کړو او یوازې خپل نوم ئې پرېښودو چا ترې نه پوښتنه وکړه چې دا دې څهٔ وکړل؟ هغه ورته په جواب کښې ووئیل چې: اوس مونږ یو وجود او یو زړهٔ ګرځېدلي یو. غوره به دا وي چې مونږ دواړو ته هر څوک دَ یو کس رمز او علامه راکړي.

"قیس مجنون" صحرایي ژوند دَ ځناورو او داړونکیو ژویو سره غوره وګڼلو او یادو حېواناتو هم دَ "قیس مجنون" سره مینه کوله او هیڅ کوم غم غرض به ئې پرې نهٔ کولو. په هر لوري به چې "مجنون" تګ کولو نو دَ یادو ځناورو قطارونه به دَ هغه سره روان وو هر چا به داسې سوچ او خیال کولو چې دغه ټول ژوي او ځناور دَ "مجنون" ساتنه کوي. دَ پښتو ادب لیکوالان او شاعران دلته دَ مرو دَ بادشاه او دَ هغه دَ سپیو قیصه یادوي وایي چې دَ مرو یو ډېر ظالم بادشاه وُ. ډېر زیات خطرناک داړونکي سپي ئې ساتلي وو، چا به چې دَ هغه خلاف ورزي وکړه نو دغه سپي به ئې یو څو ورځې وږي (نهر) وساتل او بیا به ئې همدغه نهٔ منونکې مخالف کس همدغې سپیو ته وروا چولو. سپیو به هغه کس وخوړلو او ختم به شو. دغې بادشاه یو ډېر منونکې خدمتګار هم د خپل ځان لپاره ساتلې وو. یوه ورځ همدغې منونکي خدمتګار دَ بادشاه دَ حکم په منلو کښې ځنډ کړے وُ. بادشاه په غصه او قهر شو او خپل همدغه منونکے خدمتګار ئې خپلو داړونکیو سپیو ته وروا چولو. داړونکیو سپیو پرې هیڅ کوم غم غرض وَ نهٔ کړو په پښو کښې ورته سرټیټي شول او دَ تواضع او عاجزۍ لکۍ ئې ورته خوځولې. شپه تېره شوه دَ بادشاه دَ قصر ټول کارکووني او دَ سپیو مسؤل او موظف کس حېران ګوته په غاښ ولاړ وُ. بادشاه حکم وکړو چې دَ خدمتګار څهٔ حالت دے اوس خو به ئې هډوکي هم ختم شوي وي. دَ سپیو مسؤل او موظف کس په منډه بادشاه ته ورغے او ورته ئې ووئیل چې بادشاه سلامت! هغه خدمتګار خو انسان نهٔ بلکې فرښته ده. سپیو پرې هیڅ غم غرض نهٔ دے کړے. په ډېرې عاجزۍ دَ هغه په پښو کښې سرټیټي پراته دي او په ډېره مینه او عاجزۍ ورته خپلې لکۍ خوځوي. بادشاه حکم وکړو چې زر تر زره دغه خدمتګار ماته حاضر کړئ.خدمتګار چې راغے بادشاه ترې نه وپوښتل چې سپیو ولې نهٔ یې خوړلے؟ خدمتګار اول ډېر وژړل او بیا ئې ووئیل: بادشاه سلامت! ما ډېره موده ستا په حضور کښې ستا خدمت وکړو.هر هغه کار به مې کولو چې ته به پرې خوشالېدې، هیڅ کله مې هم ستاسو محترم دَ حکم نافرماني نهٔ ده کړې. په ډېره لږه غلطۍ یا غلط فهمۍ تاسو زه داړونکیو سپیو ته دَ نورو مجرمانو غوندې وروا چولم او

هیڅ رحم او زړۀ سواندي دي رابانديې وَنۀ کړه. دغو داړونکيو سپيو ته به مې کله نا کله خواړه اچول هغوي زما دغه لږ خدمت او لږ احسان پۀ نظر کښې ساتلے و. هيڅ غم او غرض ئې رابانديې وَنۀ کړو. پۀ ډېرې عاجزۍ زما پۀ پښو کښې پرې وتل. زما پۀ ورغورځېدلو ډېر زيات خفه شول. پۀ داسې حال کښې چې ستا سو ما ډېره موده خدمت کړے دے او تاسو زما دغه ټول خدمتونه هيڅ پۀ نظر کښې وَنۀ ساتل، نو بادشاه سلامت!! کاشکې پۀ تا کې هم دَ دغې سپيو هومره وفاء وے او احسان فراموشي نۀ وے.

بادشاه دَ خدمت ګار ټولې خبرې ښې پۀ غور واورېدلې او پۀ خپلو ټولو ناوړو کړنو ئې ځان ډېر زيات ملامته کړو ، نور ئې ترې نه ډډه وکړه ، توبه ئې وويستله او ټول سپي ئې خوشې کړل!!!

نو دَ يادونې وړ ده! چې " مجنون" به هم خپله برخه خواړه پۀ دشتو او بيابانونو کښې شا او خوا کښې داړونکيو ژويو او ځناورو ته اچول تر دې چې ټول ژوي ئې دَ خپل ځان تابع کړي وو. دَ "قيس مجنون" ماما "سليم العامري" چې کله خپل خورے " مجنون" وليد چې جامې ئې څيرې او وړے تږے پۀ دشتو او بيابانونو کښې ګرځي راګرځي نو کور ته لاړ او ښکلې جامې او ښۀ خواړه ئې ورته تيار کړل. "قيس مجنون" ته ئې راوړل، مګر مجنون دغه خواړه شا او خوا کښې ځناورو ته واچول. ماما ته ئې چا ووئيل چې مجنون يواځې وابۀ (ګيا) او شنې پاڼې او هغه څيزونه خوري کوم چې سارانۍ (هوسۍ) خوري. ماما "سليم العامري" دغلته ډېر تعجب وکړو او حيران ګوته پۀ غاښ پاتې شو. مجنون ته ئې يوه قيصه دَ هغه ځوان زاهد وکړه کله چې پۀ خوا ئې يو بادشاه تېرېدو. بادشاه ورته ووئيل: أے ځوانه! ما سره زما خدمتګار شه ژوند به دې ډېر ښۀ شي. ځوان ورته ووئيل: ستا پۀ دغه ښۀ ژوند او ټوله بادشاهۍ دا دَ وښو(ګيا) او شنو پاڼو خوراک چې زۀ ئې کوم نۀ ورکووم. بادشاه صيب! ستا بادشاهي دې هم تاته درمبارک وي. زما خپله غريبي زما لپاره لويه بادشاهي ده. دغه دَ قناعت دلائل دَ "زاهد" ستر مقام دے. بيا وروسته لۀ دې "لېلا" او "قيس مجنون" دَ يؤ سپين ږيري شېخ پۀ ترتيب کړي ملاقات چې دَ لېلا پۀ غوښتنه ترتيب شوے و. دَ کجورو پۀ يؤ ښکلي باغ کښې چې دَ ښکلو شنو ونو ترخنګ پۀ ښکليو وربښمو فرش شوے و سره وليدل، "قيس مجنون" سره دَ دوه صفه داړونکيو ځناورو چې چارچاپېره ترې نه دَ ساتونکيو (محافظينو) پشان روان وو حاضر شو. سپين ږيري شېخ "لېلا" دَ "قيس مجنون" پۀ راتګ خبره کړه هغه هم حاضره شوه. دغلته سپين ږيري شېخ "قيس مجنون" ته ووئيل: "لن أستطيع التقدم أكثر من هذا، وإلا احترق شمع وجودي على رؤية نورها... "

ژباړه:

دَ دې نه زيات زۀ تاسو ته نۀ شم دروړاندې کېدلے! کۀ چرې دروړاندې شم نو دَ وجود شمع به

مې دَ لېلا پۀ نور ویلې شي!!!
وروسته لۀ دې چې دَ "قېس مجنون" اؤ دَ "لېلا" خبرې پائې ته ورسېدې پۀ " مجنون" وجد زورور شو ډېر ځواکمن، خوشاله اؤ دَ مینې ډک ببرته خپلې دشتې اؤ بیابان ته سره دَ ټولو ژویو ستون شو. "لېلا" هم خپل کور ته ستنه شوه.
یؤ شتمن ځوان (سلام) چې دَ مجنون غوندې مئین ؤ دَ "قېس مجنون" دَ قیصې څخه پۀ بغداد کښې خبر شوے ؤ. دَ مجنون پۀ حضور کښې حاضر شو. څۀ موده دَ "قېس مجنون" سره وسېدو اؤ دَ " مجنون" شعرونه به ئې دَ ځان سره لیکل. یوه ورځ "سلام" "قېس مجنون" ته اشاره وکړه چې بس کړه نور دَ عشق اؤ مینې څخه تېر شه! "قېس مجنون" ورته ووئیل: "لا تظن أني ثمل، وأني صريع الهوى، بل إنني سيّد مملكة العشق، لقد تجردت من أسباب المادة وربقة الشهوات... فالعشق الطاهر خلاصة الوجود..."
ژباړه:
ته پۀ ما داسې ګومان مۀ کوه چې زۀ مست یم اؤ زۀ خپلو نفسي خواهشاتو را پرزولے یم، بلکې زۀ دَ مینې اؤ عشق دَ بادشاهۍ سردار یم. زۀ دَ مادي اسبابو اؤ دَ نفسي شهوتونو دَ ځنځیرونو اؤ کړیو څخه آزاد شوے یم. پاکه اؤ سپېڅلې مینه اؤ عشق دَ وجود اؤ شتون کوچ اؤ خلاصه ده.
څۀ موده وروسته دَ "لېلا" مېړه (خاوند) "ابن سلام" مړ شو، دَ عربو دَ رسمونو مطابق کله چې دَ یوې ښځې مېړه مړ شي ښځه دَ څۀ مودې لپاره چې نژدې دوه کالونو ته رسېږي ستر اؤ پرده شروع کړي. نو"لېلا" هم دَ خپلو رسمونو څخه سرغړونه ونۀ کړه اؤ خپله پرده اؤ ستر کول ئې پیل کړو. پۀ دغې دوران کښې "لېلا" ډېره ناروغه شوه تر دې چې دَ همدغې ناروغۍ لۀ کبله مړه شوه. کله چې "قېس مجنون" دَ "لېلا" دَ مړینې څخه خبر شو سمدستي سره دَ داړونکیو ژویو اؤ ځناورو دَ هغې قبر ته راغے اؤ دومره ئې وژړل چې پۀ هم هاغه قبر دا هم مړ شو. ډېره موده دغو داړونکیو ژویو اؤ ځناورو دَ مجنون دَ تنې (لاش) ساتنه کوله. بیا دَ لېلا سره یوځائې اؤ یا جدا خخ (دفن) شو. دواړه "قېس مجنون اؤ لېلا" تر قیامته هم دا رنګه اودۀ شول اؤ دَ لارو څخه ئې ټولې ستونزې اؤ ملامتیاوې تر ابده لرې شوې.
یؤ سړي چې "زیاد" ئې نوم ؤ " مجنون اؤ لېلا" دواړه ئې پۀ خوب کښې ولیدل، دواړه لکه دَ فرښتو غوندې پۀ جنت کښې وو. دَ دواړو پۀ خوا کښې یؤ سپین ږیرے شېخ هم ؤ "زیاد" دَ سپین ږیرې شېخ څخه دَ دغې دواړو پۀ حقله وپوښتل چې دوي څنګه جنت ته راغلل؟ سپین ږیرې جواب ورکړو چې:
"بأنَّهما ""قيس و ليلى"" فقد حرَّما الراحة في الدنيا لذا نالا مرادهما هنا، وهكذا ينعم في هذا العالم كل من

لم يطعم الثمار في ذلك العالم".

ژباړه:

يقينَن دغې دواړو (مجنون او لېلا) دَ دنيا ټول راحتونه او خوشالیانې پۀ خپلو ځانونو حرامې کړې وې نو ځکه دواړه خپلو موخو او مقصدونو ته دلته ورسېدل. پۀ دې نړۍ کښې دَ نعمتونو څخه ټول هغه خلک برخمن کېږي چا چې پۀ هغه نړۍ کښې دَ مېوو څکه نۀ وي کړې.

کۀ چرې مونږ دغه قيصه پۀ دواړو (عربي او پښتو) ادبونو کښې پۀ سمه توګه پرتله کړو او پۀ اړه ئې ټولو هغو روايتونو او اخبارونو ته مراجعه وکړو چې دَ دواړو مئينانو (قېس مجنون او لېلا) يادونه پۀ کښې شوې ده نو هرو مرو به مونږ ته دَ دواړو ادبونو دَ اتفاق او اختلاف ټکي روښانه شي.

دَ نومورې قيصې پۀ اړه دَ دواړو ادبونو دَ اتفاق او اختلاف يوه بنستيزه او اهم ترينه نقطه:

أ- عربي ادب: کله چې مونږ دَ دواړو مئينانو (لېلا او مجنون) تر مېنځ دَ عشق او مينې اصلي معني او مفهوم ته پۀ عربي ادب کښې وګورو نو يواځې ((عذري عشق او مينه)) راڅرګندېږي. عذري عشق او مينه هغه قوي او مضبوطه عاطفه ده چې عاشق يا مئين پۀ خپلې معشوقې زړه داسې بايللے وي چې يواځې دَ معشوقې پۀ وصال او نزدېکت عاشق ته يوه لويه هيله او حوصله مندي ور پۀ برخه کېږي. ليکن دَ معشوقې پۀ وړاندې دَ عاشق يا مئين نظر او ديد حسّي او بدني لذت او متاع ته هيڅ کله هم نۀ ورګرځي. دا ځکه چې عاشق يا مئين غواړي خپله پاکه او سپېڅلې مينه چې پۀ هر قيمت او هره قربانۍ ساتل کېږي دَ تل لپاره وساتي او دوام ورکړي. هغه خپله پاکه او سپېڅلې مينه پۀ هر څۀ اوچته او غوره ګڼي . پۀ دغه لار کښې چې عاشق يا مئين ته کومې ستونزې او ناخوالې ورپېدا کېږي دَ کلک مقاومت، صبر او زغم څخه کار اخلي. پۀ عذري عشق او مينه کښې عاشق يا مئين ته ډېره ګرانه او نا ممکنه وي چې دَ حسي او بدني لذت او متاع څخه ګټه ترلاسه کړي. هغه هم دغه شيان دَ مينې پۀ اصلي او لومړي قطار کښې نۀ را ولي او نۀ ورته کوم ځانګړے اهميت ورکوي، خو دا طمع او هيله ساتي چې يوه ورځ به حسي او بدني لذت او خوند څکلو ته هم لار ومومي...[10]

ب- پښتو ادب: کله چې مونږ دَ دواړو مئينانو (لېلا او مجنون) تر مېنځ دَ عشق او مينې اصلي مفهوم ته پۀ پښتو ادب کښې ګورو نو يواځې پاک سپېڅلې صوفي عشق او مينه راڅرګندېږي چې دَ جسمونو او جسدونو مادي شکلونو او تصويرونو سره ئې هيڅ کوم تعلق او تړاو نشته، بلکې دَ پوره او کاملو عقلي معانيو مينه ده چې دَ لوړو ارزښتونو او دَ کمال او جمال دَ مُثُلو او مصدرونو سره تړاو لري.صوفي مينه او عشق دَ دنياوي ټولو خوندونو او لذتونو ترلاسه کولو سره هيڅ تړاو نۀ لري. دَ ټولو نفسي خواهشاتو او احساساتو را پارولو سره کلکه مبارزه او ځان ترې نه يؤ طرف ته ګوښه کولو او ژغورلو ته وايي.

کۀ چرې مونږ نوموړې قیصه پۀ دواړو (عربي او پښتو) ادبونو کښې پۀ ښۀ دقت او غور سره پرتله کړو نو هرو مرو به مونږ ته دَ دواړو ادبونو اتفاقي او اختلافي ټکي روښانه شي.

○ وړومبي: دَ نوموړې قیصې پۀ حقله دَ دواړو (عربي او پښتو) ادبونو اتفاقي ټکي:

1 دَ دواړو مئینانو نومونه: لېلا دَ مهدي لور او قېس دَ ملوح زوے (مجنون).

2 دَ قېس بن الملوح لقب (مجنون).

3 دَ مجنون دَ لازمو صفاتو څخه: جنون، دَ إغماء کثرت، مراقبت، عزلت او ځانته والے، دَ خلکو څخه ابتعاد او لرې والے او دَ غوښو دَ خوراک څخه اجتناب او ځان ژغورنه.

4 مجنون به دَ ونو او بوټو شنې پاڼې، ګیا او واښۀ خوړل.

5 پۀ ماشومتوب کښې دَ دواړو مئینانو (لېلا او مجنون) دَ مینې پیل او شروع.

6 کله چې دواړه (لېلا او مجنون) دَ بلوغ عمر ته ورسېدل نو لېلا پرده او ستر شروع کړو دَ قېس مجنون عشق او جنون نور هم سېوا شو.

7 کله چې دَ قېس مجنون جنون او لېونتوب ډېر شو نو پۀ دشتو، بیابانونو، غرونو او راغونو کښې به ګرځېدو او شعرونه به ئې وئیل.

8 دَ دواړو مئینانو (لېلا او مجنون) ترمېنځ دَ ټولو ښکاره او پټو عیبونو څخه پاکه او سپېڅلې مینه وه.

9 کله چې دَ "مجنون" جنون او لېونتوب ډېر شو نو کورنۍ ئې دَ هغه لپاره دَ "لېلا" کور ته پۀ "لېلا" پسې جرګه ورغلل، دَ "لېلا" پلار "مجنون" ته دَ "لېلا" دَ ورکړې څخه لۀ دې امله انکاري شو چې "مجنون" رښتیا لېونے دے. دَ "لېلا" نوم پۀ شعرونو کښې یادوي، پۀ عربو کښې دغسې کار ډېر عېب ګڼل کېدو او پۀ شعر کښې یاده شوې جینۍ به دغسې کس ته پۀ هیڅ صورت نۀ ورکول کېده، نو دَ لېلا پلار ځکه "مجنون" ته دَ لېلا دَ ورکړې څخه انکاري شو.

10 دَ "مجنون" کورنۍ دَ هغه لپاره دَ نورو جینکو پلټنه پیل کړه ولې هغه دَ بلې ښځې کولو نه ډډه وکړه او انکاري شو پۀ دشتو، بیابانونو، غرونو او راغونو کښې دَ خلکو نه لرې منزوي ژوند ئې پۀ بله ښځه غوره او بهتر وګڼلو.

11 دَ دواړو مئینانو تعلق او تړاو دَ یوې عربي قبیلې "بني عامر" سره ؤ.

12 دواړه شاعران او دَ پاکې مینې بندیان وو چې یو بل ته به ئې کله نا کله شعري پیغامونه تبادله کول.

13 دَ "لېلا او مجنون" دَ مینې قیصه دَ خلکو تر مېنځ خوره او مشهوره شوه.

14 دَ "لېلا" دَ نوم یاد ګیرنه دَ "مجنون" پۀ شعر کښې دَ "لېلا" دَ قوم دَ خفګان سبب وګرځېدو ځکه دغه کار پۀ ټولو عربو قامونو کښې ډېر لوی عار او شرم ګڼل کېدو.

15 "مجنون" دَ کور څخه دشتو، بیابانونو، غرونو اؤ راغونو ته ووتلو اؤ دَ ځان لپاره ئې دَ داړونکیو ژویو اؤ ځناورو سره یؤ ځائې ژوند پیل کړو.

16 دَ "لېلا" پلار "لېلا" دَ "مجنون" نه په غېر بل کس ته پۀ نکاح ورکړه.

17 دَ "لېلا" مېړه (خاوند) کوشش وکړو چې "لېلا" ته دَ خپل نفسي خواهښ پوره کولو لپاره ورنزدې شي ولې هغې دَ نزدېکت څخه منع کړو اؤ قسم ئې وخوړلو کۀ ته چرته رانزدې شوې ستا پۀ توره به خپل ځان ووژنم، بیا به ئې یواځې دَ لرې نه پۀ کتلو اکتفاء کوله.

18 پۀ دوامداره توګه دَ خپل کور څخه دَ "مجنون" بهر پۀ دشتو، بیابانونو، غرونو اؤ راغونو کښې پاتې کېدل اؤ کله به چې دَ "لېلا" پۀ پخوانو کورونو تېرېدو نو ډېر سخت به ئې ژړل اؤ اوښکې به ئې بهېدلې.

19 دَ مجنون پلار دَ خپل زوي "قېس مجنون" پۀ سمولو اؤ اصلاح کولو کښې پاتې راغے تردې چې ډېر ناروغه شو اؤ همدغه ناروغي ئې دَ مرګ سبب وګرځېدو.

20 "لېلا" دَ مېړه (خاوند) پۀ شتون کښې پېغله پاتې کېدل.

21 "قېس مجنون" تر آخره بله ښځه وَنۀ کړه.

22 "دَ لیلي مجنون" قیصه پۀ جزیرة العرب کښې دَ أموي دورې خلافت پۀ لومړنیو کالونو کښې واقع شوې ده.

23 دَ "قېس مجنون" پلار "قېس مجنون" دَ سخت مئنتوب اؤ لېونتوب لۀ کبله حج ته بوتلو چې دَ ورپېښې ناروغۍ څخه روغ شي.

24 "مجنون" به دَ حج پۀ دوران کښې په ځانګړي ډول مطاف کښې "لېلا" سره دَ مینې دَ زیاتوالي دعاګانې کولې اؤ وئیل به یې یا اللهؐ! زما دَ باقي پاتې عمر څخه "لېلا" ته څه عمر ورکړه چې دَ هغې عمر پرې زیات شي.

25 "قېس مجنون" به دَ لېلا دَ وجې دَ سارانۍ (هوسۍ) سره مینه کوله اؤ هغه به ئې دَ لېلا سره مشابه کوله داسې ګومان به ئې پرې کولو چې دا بالکل "لېلا" ده.

26 " مجنون" به ښکار لپاره جال غوړولو چې ښکار پۀ کښې ونیسي، کله نا کله به دغه ښکار سارانۍ (هوسۍ) وه ډېر زیات به ئې ورته کتل پۀ ځانګړي ډول دَ هغې سترګو ته اؤ دا ګومان به ئې کولو چې دا خو "لېلا" ده اؤ یا دَ هغې پشان ده بیا به ئې دَ جال څخه آزاده کړه اؤ نۀ به ئې حلالوله.

27 "قېس مجنون" به ټول ښکاریان دَ هوسو دَ ښکار څخه منع کول دَ دې لپاره دَ دۀ پۀ آند چې دَ "لېلا" سره مشابهت لري.

28 "نوفل بن مساحق" دَ "قېس مجنون" اؤ دَ "لېلا" دَ پلار ترمېنځ واسطه اؤ سفارشي ؤ چې

"لېلا" "قېس مجنون" ته په نکاح ورکړي.

29 دَ "لېلا" کورنۍ دَ "قېس مجنون" دَ کارنامو په حقله والي يا ګورنر ته شکايت وکړو اؤ والي دَ هغه دَ وژلو حکم ورکړو په دې شرط که چرته بيا دَ "لېلا" کور ته ورغے.

30 لومړۍ "لېلا" مړه شوه اؤ بيا "قېس مجنون" دَ "لېلا" په قبر مړ شو.

31 دَ سارانۍ (هوسۍ) تشبيه دَ "لېلا" سره دَ "قېس مجنون" په آند.

دغه وې دَ نوموړې قيصې په حقله دَ دواړو (عربي اؤ پښتو) ادبونو اتفاقي ټکي.

○ دوېم: دَ نوموړې قيصې په حقله دَ دواړو (عربي اؤ پښتو) ادبونو اختلافي ټکي:

**1** په پخواني (قديم) عربي ادب کښې: "قېس مجنون اؤ لېلا" دواړه شپانه وو دَ خپلو کورونو مواشي (ګډې اؤ اوزې) به ئې څرولې.

**2** په پښتو اؤ نوي (حديث) عربي ادبونو کښې: "قېس مجنون اؤ لېلا"، دواړه دَ مکتب / مدرسې شاګردان وو نۀ چې شپانه.

**3** په پښتو ادب کښې: کله چې دَ "قېس مجنون" پلار اؤ دوستان ئې دَ "قېس مجنون" لپاره دَ "لېلا" په جرګه ورغلل "قېس مجنون" پلار خپل ځان سره کښېنولے ؤ کله ئې چې يؤ ګوډ سپے چې دَ "لېلا" دَ کور څخه را ووتلو سمدستي ئې ورمنډه کړه اؤ سپے ئې ټينګ را ونيولو اؤ خپلې غېږې ته ئې ښۀ جوخت ونيولو. دَ ښپو دَ تليو اؤ نوکانو څخه تر سر اؤ سترګو پورې ټول بدن ئې ورله ښکل کړو دَ مجلس ټولو خلکو ورته کتل اؤ يوه لويه ټوقه اؤ مسخره ترې نه جوړه شوه دَ "لېلا" پلار دَ "مجنون" پلار ته ووئيل پخپلو سترګو دې دَ زوي لېونتوب وګوره زما وئيلو ته هيڅ اړتيا نشته، مهرباني وکړه لومړې ئې دَ ورپېښې ناروغۍ درملنه وکړه اؤ بيا ئې دَ وادۀ غم خوره.

**4** په پښتو ادب کښې: دَ "لېلا" وادۀ دَ "ابن سلام" سره چې دَ عربي قبيلې "بني اسد" سره ئې تعلق لرلو شوے دے.

**5** په پخواني (قديم) اؤ نوي (حديث) عربي ادب کښې: دَ "لېلا" وادۀ دَ "ورد الثقفي" سره چې دَ عربي قبيلې "بني ثقيف" سره ئې تعلق لرلو شوے دے.

**6** هم دا رنګه په پخواني (قديم) عربي ادب کښې: "لېلا" وادۀ نۀ دے کړے پېغله پاتې شوې ده.

**7** هم دا رنګه په پخواني (قديم) عربي ادب کښې: وئيل شوي دي چې دَ مجنون نوم "قېس بن معاذ" ؤ دَ "بني عامر" دَ قبيلې سره ئې تعلق لرلو اؤ داسې هم وئيلے شوي دي چې دَ مجنون نوم "معاذ" ؤ اؤ دَ پلار نوم ئې "الملوّح" ؤ (معاذ بن الملوّح) اؤ آخري قول دا دے چې دَ مجنون نوم "مهدي" ؤ اؤ دَ پلار نوم ئې "الملوّح" ؤ (مهدي بن الملوّح).

**8** په پښتو ادب کښې: دَ مجنون پلار دَ عربو دَ بادشاهانو څخه يؤ بادشاه ؤ.

9 پهٔ پخواني (قديم) اؤ نوي (حديث) عربي ادب کښې: دَ مجنون پلار دَ قوم ملک اؤ دَ کلي مشر ؤ.

10 پهٔ پښتو ادب کښې: دَ "قېس مجنون" نور ورونړه نهٔ وو.

11 پهٔ عربي ادب کښې: دَ "قېس مجنون" نور ورونړه هم وو، ولې پلار ئې يواځې دَ "قېس مجنون" سره مينه کوله اؤ "قېس مجنون" ئې پهٔ نورو ورونړو غوره ګڼلو.

12 پهٔ پخواني (قديم) اؤ نوي (حديث) عربي ادب کښې: "قېس مجنون" دَ عذري غزل دَ شاعرانو لهٔ جملې څخه يؤ شاعر ؤ.

13 پهٔ پښتو ادب کښې: "قېس مجنون" دَ "أهل التصوُّف" لهٔ جملې څخه يؤ صوفي شاعر ؤ چې پهٔ "تصوُّف" کښې دَ "جنون" درجې ته دَ هغوي پهٔ آند رسېدلے ؤ.

14 پهٔ پښتو ادب کښې: "قېس مجنون" دَ الله پاک ج-سبحانه وتعالى- دَ أولياؤ څخه يؤ ولي ؤ چې ځينې کرامات ئې هم درلودل، لکه پهٔ غېر دَ خوراک اؤ څښاک څخه ئې ژوند کولو اؤ ټولې دعاګانې ئې دَ الله پاک -جل جلاله- پهٔ وړاندې مستجابې وې. پهٔ دشتو، بيابانونو، غرونو اؤ راغونو کښې ئې دَ داړونکيو ژويو اؤ ځناورو سره يؤ ځائې ژوند کولو اؤ هيڅ کومه ستونزه اؤ تکليف ئې نهٔ وررسولو بلکې دَ هغه بشپړه ساتنه به ئې هم کوله.

15 پهٔ عربي ادب کښې: "قېس مجنون" پهٔ "لېلا" مئين ؤ اؤ "لېلا" پهٔ هغه مئينه وه . دواړه دَ عذري غزل شاعران وو نهٔ دَ الله پاک ج-سبحانه وتعالى- دَ أولياؤ څخه وليان وو اؤ نهٔ ئې هيڅ کوم ځانګړې کرامات لرل، بلکې دَ عامو مسلمانانو غوندې مسلمانان وو.

16. پهٔ پښتو ادب کښې: "نوفل بن مساحق" دَ عربو دَ بادشاهانو څخه يؤ لوي بادشاه ؤ.

17 پهٔ عربي ادب کښې: "نوفل بن مساحق" دَ "عمر بن عبد الرحمن بن عوف، لخوا دَ زکاتونو اؤ خېراتونو دَ راټولولو مسؤل ؤ اؤ "ابن عوف" پخپله دَ أمير المؤمنين "مروان بن الحکم" لخوا دَ زکاتونو اؤ خېراتونو دَ راټولولو مسؤل ؤ.

18 پهٔ عربي ادب کښې: "ابن عوف" هم دَ "نوفل بن مساحق" پشان دَ "مجنون" اؤ دَ "لېلا" دَ پلار ترمېنځ واسطه اؤ سفارشي کس ؤ.

19 پهٔ پښتو ادب کښې: يؤ سپين ږيري شېخ دَ دواړو مئينانو "مجنون" اؤ "لېلا" ترمېنځ دَ ملاقات کولو زمينه دَ "لېلا" پهٔ غوښتنه دَ کجورو اؤ سبر ونو پهٔ يؤ ښکلي باغ کښې برابره کړې وه.

20. پهٔ پښتو ادب کښې: "قېس مجنون" دَ "لېلا" سره دَ ملاقات کولو لپاره دَ ځان سره يؤ ځائې دوه صفه داړونکي ژوي اؤ ځناور دَ ځان ساتنې اؤ حفاظت پهٔ موخه راوستلي وو.

21. پهٔ پښتو ادب کښې: دَ "لېلا" قد اؤ قامت دَ سبر(سرو) ونې سره تشبيه شوې ده.

22. پهٔ پښتو ادب کښې: يؤ ځوان شتمن کس چې دَ بغداد اوسېدونکے ؤ دَ "سلام" پهٔ نوم يادېدو دَ "قېس مجنون اؤ دَ لېلا دَ مينې دَ قيصې څخه خبر شوے ؤ دَ "قېس مجنون" حضور

کښې حاضر شو، دا ځکه چې هغه هم دَ "قېس مجنون" غوندې عاشق ؤ. مجنون سره څۀ موده پاتې شو اؤ دَ هغه شعرونه به ئې لۀ ځان سره لیکل یوه ورځ ئې "قېس مجنون" ته اشاره وکړه اؤ وې وئیل: بس کړه نور دَ مینې نه تېر شه. مجنون ورته ووئیل: "لا تظن أني ثمل، وأني صريع الهوى، بل إنني سيد مملكة العشق، لقد تجردت من أسباب المادة وربقة الشهوات... فالعشق الطاهر خلاصة الوجود."

ژباړه:

ته داسې ګومان پۀ ما مۀ کوه چې زۀ مست یم اؤ زۀ خپلو نفسي خواهشاتو را پرزولے یم، بلکې زۀ دَ مینې اؤ عشق دَ بادشاهۍ سردار یم، یقینن زۀ دَ مادي اسبابو اؤ نفسي شهوتونو دَ ځنځیرونو اؤ کړیو څخه آزاد شوے یم. پاکه اؤ سپېڅلې مینه اؤ عشق دَ وجود یا شتون کوچ اؤ خلاصه ده.

23 پۀ پښتو ادب کښې: یؤ سړے چې "زیاد" ظې نوم ؤ "قېس مجنون اؤ لېلا" دواړه ئې پۀ خوب کښې ولیدل، دواړه لکه دَ فرښتو غوندې پۀ جنت کښې وو، دَ دواړو پۀ خوا کښې یؤ سپین ږیرے شېخ هم ؤ "زیاد" دَ سپین ږیرې څخه دَ دغې دواړو پۀ حقله پوښتنه وکړه چې دوي څنګه جنت ته راغلل؟ سپین ږیرې جواب ورکړو چې:

"بأنّهما (قيس و ليلى) فقد حرّما الراحة في الدنيا لذا نالا مراد هما هنا، وهكذا ينعم في هذا العالم كل من لم يطعم الثمار في ذلك العالم".

ژباړه:

یقینن دغې دواړو (قېس اؤ لېلا) دَ دنیا ټول راحتونه اؤ خوشالیانې پۀ خپلو ځانونو حرامې کړې وې نو ځکه دواړه خپلو موخو اؤ مقصدونو ته دلته ورسېدل، پۀ دې نړۍ کښې دَ نعمتونو څخه یواځې ټول هغه خلک برخمن کېږي چا چې پۀ هاغه نړۍ کښې دَ مېوو څکه نۀ وي کړې.

24 پۀ پښتو ادب کښې: دَ "قېس مجنون" ماما "سلیم العامري" چې کله خپل خورے "قېس مجنون" پۀ بد حالت کښې ولیدو جامې ئې څیرې، وږے تږے پۀ دشتو اؤ بیابانونو کښې ګرځي راګرځي نو کور ته لاړو ښکلې جامې ښۀ خواړه ئې ورته تیار کړل اؤ "قېس مجنون" ته ئې راوړل، مګر "قېس مجنون" دغه خواړه شا اؤ خوا کښې ځناورو ته واچول، ماما ته ئې چا ووئیل چې: "قېس مجنون" یواځې وابښۀ (ګیا) اؤ شنې پاڼې یعنې هغه شیان خوري کوم شیان چې سارانۍ (هوسۍ) خوري، ماما "سلیم العامري" دغلته ډېر تعجب وکړو "قېس مجنون" ته ئې یوه قیصه دَ هغې ځوان زاهد وکړه کله چې پۀ خوا ئې یؤ باد شاه تېرېدو. بادشاه ورته ووئیل: أے ځوانه! ما سره زما خدمتګار شه ژوند به دې ډېر ښۀ شي، ځوان ورته ووئیل ستا

پۀ دغه بنۀ ژوند اؤ ټوله باد شاهۍ دا دَ وبنو (ګيا) اؤ شنو پاڼو خوارک چې زۀ ئې کووم نۀ ورکوم. بادشاه صاحب! ستا باد شاهي دې هم تاته درمبارک وي زما خپله غريبي زما لپاره لويه بادشاهي ده. دغه دلائل دَ "زاهد" ستر مقام دے.

25 پۀ پښتو ادب کښې: دَ "مجنون" پلار دَ خپل زوي "قېس مجنون" څخه مخکښې وفات شوے دے.

26 پۀ عربي ادب کښې: دَ "قېس مجنون" پلار دَ خپل زوي "قېس مجنون" څخه وروسته وفات شوے دے.

## دَ دې بحث پايله اؤ نتيجه

غرض دا چې پۀ ځانګړي ډول دَ شرقي نړۍ ادبيات چې پښتو ژبه اؤ ادب هم پۀ کښې شامل دي دَ يادې ژبې اؤ ادب څخه پۀ ډېرو څيزونو کښې نېغ پۀ نېغ اغېزمن شوے دے اؤ دَ ليلا اؤ مجنون قيصه چې اصل مبدأ، منشأ اؤ پيل ئې پۀ عربي جزيره کښې دَ اموي دورې دَ مروان بن الحكم اؤ عبدالملك بن مروان دَ خلافت پۀ موده کښې شوے دے. دا دَ بني عامرو دَ قبيلې دَ دوه تنو- چې دَ «قېس بن الملوح المجنون» اؤ «ليلا بنت مهدي» پۀ نومونو يادېږي دَ مينې اؤ محبت داستان اؤ قيصه ده.

## حواله جات اؤ کتابيات

[1] وګورئ: ليلى والمجنون في الأدبين: العربي والبشتوي دراسة نقدية تحليلية مقارنة، رسالة لنيل درجة الدكتوراه، فضل الله مومند، تحت اشراف: الدكتور يعقوب خان مروت، صـ18– 19 و صـ127– 128، قسم اللغة العربية، جامعة بشاور، 1439هـ 2018م.

[2] وګورئ: همدغه مرجع، صـ18– 19.

[3] وګورئ: الأغاني، د ابوالفرج الأصفهاني، جـ2، صـ1، 5، او11، طبعه: دار الكتب المصرية، القاهرة، مصر، 1980م. او البيان والتبيين، د أبو عمرو الجاحظ، تحقيق: الأستاذ عبد السلام هارون، جـ1، صـ385، جـ3، صـ224، جـ4، صـ22، الناشر: الطبعة السابعة، مكتبة الخانجي، عدد المجلدات: 4، سنة النشر: 1418 هـ ق، 1998م. او الشعر والشعراء، د ابن قتيبة الدينوري، تحقيق او شرح: أحمد محمد شاكر، صـ355، دارالمعارف، مصر، 1998م. او "ديوان مجنون ليلى"، د قيس بن الملوح"المجنون"، شرح: صلاح الدين الهواري، صـ5 و صـ15، الناشر: دار= =ومكتبة الهلال، ب، ت، ط. او همدارنګه: ليلي والمجنون في الأدبين: العربي والبشتوي، دراسة نقدية تحليلية مقارنة، صـ18– 19، وصـ127– 128.

[4] دا نسبت "بني عذرة" قبيلې ته دی، دا په عربو کښې هغه قبيله وه چې د نرم طبيعته احساس، د رښتيني او پاکې سپېڅلې مينې او د ډېرو عاشقانو او مېينانو په نوم پېژندل شوې قبيله وه چې أكثراً د "وجد" له کبله به مړه کيدل، د صوفيانو ټول صفات د"بني عذرة" قبيلې په شاعرانو کښې موجود وو، لکه (( وجد، اغماء،

جنون، مراقبت...))، نوموړې قبیله د حجاز شمال لوري ته د عطفان سره نږدې اوسېده، او د هغو ځایونو څخه چې "بني عذرة" قبیله پکښې اوسېده یو یې "وادي القرى" وه، او بل یې "تبوك" وه، اوس د عربي ادب د غزل په برخه کښې "عذري غزل" یو ځانته مقام او نوم لري، او همدارنګه په مرور د وخت سره دغه اصطلاح عامه شوه او د عذري غزل اطلاق به په هر هغه شعر کېده چې شاعر به په خپل شعر کښې د تخیل تر څنګ د ټولو ښکاره او پټو عیبونو او ناوړه الفاظو استعمالولو څخه کلکله ډډه او خپله پاکه او رښتیني مینه او عاطفه او ټول هغه صفات مراعتول کوم چې به د "بني عذرة" قبیلې شاعر په خپل غزل کښې مراعتول دغې قسم غزل ته به عذري غزل ویل کېده ولو که دغه غزل به بیا د هر چا او د هرې قبیلې د شاعر غزل و... د لومړي ځل لپاره د "عذري غزل" اصطلاح په همدغه معنی د عربي ادب مشهور او پیژندل شوي ادیب او لیکوال "ابن قتیبة الدینوريؒ" چې د (276هـ ق کال متوفي دی) په خپل کتاب "الشعر والشعراء" کښې استعمال کړېده، او همدارنګه ابن داود الأصفهاني چې د (269هـ ق کال متوفي دی) په خپل کتاب "الزهرة" کښې هم... وګورئ: الحیاة العاطفیة بین العذریة والصوفیة، د الدکتور محمد غنیمي هلال، صـ18- 19، الطبعة الأولی، دارنهضة مصر للطبع والنشر، فجالة، القاهرة، جمهوریة مصر العربیة، (1985).

5 وګورئ: مخکینی مرجع... صـ22 – 23.

6 وګورئ: لیلي والمجنون في الأدبین: العربي والبشتوي، دراسة نقدیة تحلیلیة مقارنة، صـ128 – 12

7 وګورئ: الحیاة العاطفیة بین العذریة والصوفیة، د الدکتور محمد غنیمي هلال، صـ12، او همدارنګه: لیلي والمجنون في الأدبین: العربي والبشتوي، دراسة نقدیة تحلیلیة مقارنة، له صـ313 تر صـ316. او همدا مضمون صـ13 – 14.

8 هغه: نوفل بن مساحق بن عبدالله بن مخرمة بن عبد العزی بن أبي قیس بن عبدود بن نصر بن مالك بن حسل بن عامر بن لؤي بن غالب القرشي، چې د ((بنی مالك بن حسل)) د قبیلې سره تړاو لري، او همدارنګه د ((بني عامر بن لؤي)) د قبیلې سره هم، کنیه نوم یې: أبو سعید دی ، دا د سعید بن زید بن عمرو بن نفیل څخه روایت کوي، بیا دده څخه: عبدالملك بن أبي حسین روایت کوي، نوموړې د عبدالملك بن مروان د امارت ددورې په لومړنیو کالونو (۷۴هـ ق) کښې وفات شوېدې، مور یې: مریم بنت مطیع بن الأسود بن حارثة بن نضلة بن عوف بن عبید بن عویج ده، او همدا رنګه نوموړې په لویو تابعینو کښې شمېرل کېږي... وګورئ: الثقات، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان أبو حاتم التمیمي البستي السجستاني، تحقیق: السید شرف الدین أحمد ، باب النون جـ5، صـ478 الناشر: دار الفکر، الطبعة الأولی، 1395هـ ق – 1975م. او همدارنګه: الإصابة في تمییز الصحابة، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجرالعسقلاني الکناني (المتوفی:852هـ) جـ6، صـ87، تحقیق: عادل أحمد عبدالموجود وعلي محمد معوض، الطبعة: الأولی، دار الکتب العلمیة – بیروت، لبنان،1415هـ.

9 وګورئ: لیلي والمجنون في الأدبین: العربي والبشتوي، دراسة نقدیة تحلیلیة مقارنة، صـ249– 250.

10 وګورئ: الحیاة العاطفیة بین العذریة والصوفیة، د الدکتور محمد غنیمي هلال، صـ12، او همدارنګه: لیلي والمجنون في الأدبین: العربي والبشتوي، دراسة نقدیة تحلیلیة مقارنة، د صـ313 تر صـ316. او د صـ322 تر صـ328.